مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

عبدالغفور لېوال

۲۰۲۳/۰۳/۲۱

# هیلـــۍ

لرې په کراره راځه،
دوه سپيني ـ سپيني
ناکراره هيلۍ
الوځي
الوځي
د شپې له تور بخمل ښخه سرونه باسي
د شپې ګريوان نه د رڼا سرکشي ښکلې ده،
خو
زما د سترګو په افق کې دومره ډېره ښکلا نه ځايېږي.
وړه ـ وړه
خوږه ـ خوږه
لکه رڼه شرشره
غېږ ته راشه.
زه
د پېړيو تږی،
ښکلا په سترګو
رڼا په ذهن
او
شراب
په شونډو
ورو ـ ورو ښبنم.





افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ